عبدالغفور لیوال ۲۰۲۶/۰۸/۱۶

# عدم تشدد څه دی؟

نه‌تاوتریخوالي، عدم تشدد، عدم خشونت یا Nonviolence څه دی؟ دا د سیاسي مبارزې کومه شیوه و لاره ده؟ که د فیلوسوفیک تفکر کومه عملي پایله؟ له استبداد، بې‌عدالتي او نیواک سره عاطفي چلند دی؟ که په دینونو او ګروهو کې ریښه لري؟

ایا د نه‌تاوتریخوالي یا عدم تشدد په اړه په افغانانو کې سمه انګېرنه و پېژند شته؟ ولې ځینې هغه مبارزې چې د تشدد له لارې شوې او ډېرې وینې په‌کې بهېدلې دي، بیا هم ناکامې وې، خو ځینې ناتاوتریخجنې مبارزې بریا ته رسېدلې دي. د مبارزې د دغې لارې بنسټونه څه دي؟

**اې زما د نیکه زویه    اې زما د مینې وروره**

**اې د نر بابا بچیه    اې پیدا له نرې موره**

**سترګې ډکې د رڼا ستا    لاس دې تش، توره دې څه شوه؟**

**د غضب په نیلي سور شوې    فولادي زغره دې څه شوه؟**

**وې: په نوې مستۍ مسته    پاکه وینه د پښتون شوه**

**ولې کوره که لیلا بیا    تش په مینه د مجنون شوه**

دا د عدم تشدد تر سرلیک لاندې د غني خان د شعر یوه برخه ده. غني خان د نه‌تاوتریخوالي د لوی مبارز باچا خان شاعر زوی و. داسې ویل کیږي، چې د شاعر غني خان زړه هم کله کله د نه‌تاوتریخوالي مبارزې ته تنګېده او دا یې بریالی لاره نه‌ګڼله، بنایي په همداسې ناهیلی کې به یې ویلې وې:

**خښتک د پښتون شلېدلي    باچاخان ورته ګیندي وهي**
**ګاندي لیونی شوی دی    سنډا ته سرینډي وهي**

نه‌تاوتریخوالي یا عدم تشدد هغه اصل او تګلاره ده، چې له مخې یې تولنیز، سیاسي، مدني او شخصي بدلونونه د زور، فیزیکي تاوتریخوالي او نورو ته د زیان‌رسولو له کارولو پرته رامنځ ته کیږي، د عدم تشدد لوښې و اوزار خبرې، استدلال، سوله‌ییز لاریونونه، مدني نافرماني او بې‌وسلې پاڅونونه دي، چې د حق و عدالت د ټینګښت لپاره ترسره کیږي. ملګرو ملتونو هم د غه مبارزه تعریف کړې او د هغې په بهیر کې یې د بشري حقونو پر درناوي ټینګار کړی دی.

داسې باور دی، چې په ځینو هندویي دینونو کې دغه فکر لرغونې ریښې لرلې، خو په نومهالي تاریخ کې د انګریزي ښکېلاک په وړاندې د مهاتماګاندي مبارزې د نه‌تاوتریخوالي فکر مشهور او خپور کړ. په امریکا کې د مدني حقونو مبارز مارټین لوترکینګ او په سویلي افریقا کې د توکمپالنې په وړاندې مبارز نیلسن مانډیلا هم د دغې لارې مخکښان یادیږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

خان عبدالغفارخان چې پښتانه يې باچاخان بولي د پښتنو د خپلواکۍ، ويښتيا او مدني حقونو د ترلاسه کولو د لارې مبارز هم خپله مبارزه د نهتاوتريخوالي پر فکر و باور ولاړه ساتلې وه. هغه په دې ټينګار کاوه چې د اسلام سپېڅلی دين هم د تاوتريخوالي مخالف دی او پښتانه بايد د ټوليزې او ټولنيزې ويښتيا او روښانتيا له لارې دومره پياوړي شي، چې خپل ټول حقونه واخيستلای شي.

په پښتونخوا کې د انجمن اصلاح الافاغنه او بيا روسته خدايي خدمتګارو تحريک د پښتنو د ازادۍ او ويښتيا لپاره خپله مبارزه د نهتاوتريخوالي پر فکر سنبال کړې وه. په افغانستان کې لومړنی مشروطه نهضت هم له تاوتريخوالي پرته د خلکو د راويښولو او خپلو حقونو ته يې د پام وراړولو سياست پرمخ ووړ، خو وځپل شو. تر خپلواکۍ روسته د ويښ زلميان خوځښت هم په سولهييزه خو جدي ويښوونکې مبارزه باورمن نهضت و.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ